ليکوال: شريف بهاند

# نړيوال کېدل (Globalization)

## د يوويشتمې پېړۍ ستراتېژي

د واقعي دښمنانو له شتوالي پرته، نه شو کولي واقعي دوستان ولرو. که له هغه څه نه کرکه و نه کړو، چې په هغه پورې اړه نه لرو، نو نه شو کولي له هغه څه سره مينه وکړو، چې په هغه پورې اړه لرو.

مايکل ديبدين

د سوسياليستي نظام ماتې که له يوې خوا په ټوله نړۍ کې د ولسواکۍ او د لويديځ پانګه وال نظام د بري هيلي رامنځته کړي، خو له بلې خوا له هغې سره جوخت د سړې جګړې اصول، چې د سوسياليستي نظام محدودول و، هم خپل ارزښت له لاسه ورکړ او په دې توګه د هغې د وروسته پړاو له پاره يوه تيوريتيکي خلأ رامنځته شوه. نو ځکه د لويديځې نړۍ سياستوال او همدارنګه د نړيوالو څېړنو مرکزونه او د هغو څېړونکي په دې لټه کې شول، څو نوي اصول، چې د سړې جګړې د ستراتيژۍ ځای ونيسي، رامنځته کړي. په دې ترڅ کې تر ټولو دمخه د راند د څېړنيز مرکز Rand Corporation څېړونکی، فرانسيس فوکوياما Francis Fukuyama خپله له هيلو ډکه نظريه، چې په ټوله نړۍ کې د ليبرالې ولسواکۍ د برلاسۍ او د ايډيالوژيکو کړکيچونو د پای زيري يې ورکاوه، په خپل کتاب " د تاريخ پای" کې وړاندې کړه.

د فوکوياما په اند "ليبراله ولسواکي" د بشري ټولنې د حکومت وروستی ډول دئ. نوموړي په دې اړه په خپل دغه اثر کې ليکي: د تاريخ پای هغه وخت دئ، چې بشريت د داسې يوې ټولنې په جوړولو بريالی شي، چې په هغې کې خپلې بنسټيزې اړتياوې او غوښتنې ترلاسه کړي شي. نننې بشر هغه ځای ته رسيدلې، چې نه شي کولي ذاتاً له دغې نړۍ پرته د بلې نړۍ په اړه تصور وکړي، ځکه هيڅ داسې نښې نښانې نه تر سترګو کيږي، چې له اوسني نظام نه به ښه نظام رامنځته شي (وګوري Fukuyama, Francis, 1992, S. 75-89).

فوکوياما د همدې اثر په يوې بلې برخې کې زياتوی: د څو تيرو لسيزو په ترڅ کې "ليبرالې ولسواکۍ" پر خپلو ايډيالوژيکو سيالانو د ساری په توګه سلطنتي نظام، فاشيزم او اوسمهال د کمونيستي نظام په وړاندې بری ترلاسه او د يوه بريالی حکومتی نظام په توګه يې خپل مقام ثابت کړ. سربيره پر دې ښايي ليبراله ولسواکۍ "د بشريت د ايډيالوژيکی بشپړتيا د پای ټکی" او "د بشری حکومت وروستې بڼه" وي او هغه په دې مقام کې د "تاريخ پای" جوړوي. په حقيقت کې د کمونيزم ماته د لويديځ د ليبرالو ارزښتونو د برياوو لامَل او د ايډيالوژيکو شخړو پای ګڼل کيږي (وګوري Fukuyama, Francis, 1992, S. 29-40). د فوکوياما دغه نظريه د ډيرو سياستوالو او شنونکو (تحليلګرانو) له خوا نوې، ډيره په زړه پورې او مهمه وارزول شوه.

خو په نړيواله کچه د پېښو پرمختياوو، د بيلګې په توګه د نړۍ په ځينو سيمو کې قومي او ديني کړکيچنو، د بنسټپالي ملت پالنې رامنځته کيدنې او داسې نورو دغه نظريه بې اعتباره او زمينه يې د ساموېل فيليپ هانتينګتون Samuel P. Huntington ګواښمنې نظريې، "د تمدنونو تر منځ ټکر او د يوويشتمې پيړۍ له پاره د نوی نړيوال نظم جوړولو"، ته هواره کړه. د نوموړي په اند، له سړې جګړې څخه وروسته نړيوال سياست د تمدنونو د ځانګړتياوو پر بنسټ طرحه او د عمل په ډګر کې پلی کيږي. هانتينګتون په دې اړه ليکي: "ملتونه د نوي هويتونو، چې په عين حال کې ډير لرغوني دي، د کشف په حال دي او له نوو بيرغونو سره، چې ډير پخواني دي، د نويو دښمنانو، چې هغه هم څه نا څه پخواني دي، په وړاندې د جګړې ډګر ته وردرومي"(Huntington, Samuel P. , S. 18).

هانتينګتون د هويت د لا روښانتيا په اړه د مايکل ديبدين Michael Dibdin له رومان څخه په اخيستنې سره ليکي: " د واقعي دښمنانو له شتوالي پرته، نه شو کولي واقعي دوستان ولرو. که له هغه څه نه کرکه و نه کړو، چې په هغه پورې اړه نه لرو، نو نه شو کولي له هغه څه سره مينه وکړو، چې په هغه پورې اړه لرو"(Huntington, Samuel P. , S. 18). نوموړی غواړی په دې توګه د نړۍ د ژونديو تمدنونو په ويش سره د متحدو ايالتونو له پاره نوي دوستان او دښمنان په ګوته کړي. ځکه د سړې جګړې په بهير کې نړۍ په دريبو برخو، پانګه وال سيستم، سوسياليستی نظام او په ناپيیلي هيوادونو ويشل شوې وه او نړيوال سياست دوه قطبی بڼه درلوده. د دغو دواړو قطبونو تر منځ له ايډيالوژيک، سياسي، اقتصادي او ځيني وخت پوځي پلوه سيالي، په تېره د دريمې نړۍ په هيوادونو کې، چې له اقتصادي پلوه وروسته پاتي او بيوزلي او په کې سياسي ثبات هم کمزوری و، روانه وه.

خو په اوس وخت کې د نړۍ د هيوادونو تر منځه د سړې جګړې د وخت ويش خپل باور له لاسه ورکړی او ځای يې د اوسنې نړۍ اوو او يا اتو بنسټيزو تمدنونو نيولی دئ. هانتينګتون په دې اړه وايي: "په دې نوې نړۍ کې، سيمه ييزو سياستونو قومي ماهيت غوره کړی او نړيوال سياست د تمدنونو سياست دئ. د سترو ځواکونو تر منځه سيالی خپل ځای د تمدنونو تر منځه ټکر ته ورپريښي دئ" (Huntington, Samuel P. , S. 24). د نوموړي په اند، له سړې جګړې څخه په وروسته نړۍ کې، د هر تمدن بنسټيز او مرکزی هيواد به د هغې د پړاو د ستر ځواک ځای ونيسي. نړيوال

ځواک نور مانا نه لري. هيڅ هيواد، ان متحده ايالتونه ځانګړې ستراتيژيکې ګټې نه لري، د نړۍ ويش د تمدنونو پر بنسټ اړين بريښي او له هغه څخه هيڅ تيښته نه شته (وګورئ: Huntington, Samuel P. , S. 28-38).

هانتينګتون د نړۍ اوسني ژوندي او بنسټيز تمدنونه په لاندې ډول سره ويشي: چيني (کنفوسيوسی)، جاپانی، هندی، اسلامی، لويديځ، ارتودوکس، د لاتيني امريکا او افريقايی تمدن (وګورئ: Huntington, Samuel P. , S. 57-62).

کومې مهمې موضوع ته چې هانتينګتون په خپل اثر کې نغوته کړی او هغه تر ټولو ګواښمنه بريښي، دا ده، چې نه يوازې د نومول شويو تمدنونو تر منځ د ټکر شونتيا شته، بلکې په واقعيت کې له دې ډول ټکرونو څخه مخنيوي ناشونی بريښي. د نوموړی په اند: "... تر ټولو له ګواښه ډکه دښمنې، چې په ښکاره توګه تر سترګو کيږي، هغه د بسټيزو او اصلی تمدنونو په کمزورو او سستو پولو ( Fault Lines) کې رامنځته کيږي" (Huntington, Samuel P. , S. 18). ځکه نو هانتينګتون نور تمدنونه په تيره اسلامی او کنفوسيوسی تمدنونه لويديځ تمدن ته ګواښمن بولي او په ټينګار سره له لويديځ تمدن. څخه غواړي، چې د اسلامی – کنفوسيوسی تمدنونو اقتصادي او په تيره د پوځي ځواک پرمختياوي محدودې، د دوي تر منځه له اوسنيو توپيرونو او کړکيچونو څخه ګټه ترلاسه کړي او د دغو تمدنونو او نورو په دننه کې له هغو ډلو څخه ملاتړ وکړي، چې د لويديځ له ګټو او ارزښتونو نه دفاع کوي او په دې توګه د لويديځ واکمني وساتل شي، ګټې يې تأمين او اقتصادي او سياسي ارزښتونه يې پراختيا ومومي.

خو"کنفوسيوسی او اسلامی ټولنې په دې هڅه کې دي، ځوځپل اقتصادي او پوځي ځواک لا پياوړي کړي، چې د لويديځ په وړاندې مقاومت او همدارنګه له هغه سره «انډول» برابر کړي. نو ځکه له سړې جګړې څخه په وروسته نړۍ کې، د نړيوال سياست له بنسټيزو محورونو څخه، له لويديځ ځواک او کلتور سره د نورو ( نا لويديځو) تمدنونو د ځواک او کلتور تعامل دئ" (Huntington, Samuel P. , S. 28).

که څه هم " ... د لويديځ ځواک، د نورو تمدنونو په پرتله د زوال په حال کې دئ" (Huntington, Samuel P. , S. 28)، او يا د زبيګنيو برژينسکی په اند: " ... سکولاريسم عنان گسيختهٔ حاکم بر نيم کرهٔ غربی در درون خود نطفهٔ ويرانی فرهنگ غربی را می پرورد. ... نه برخورد تمدنها." زيرا " در زمينهٔ فرهنگی ... غرب نوعی لذت گرايی مادی را رواج ميدهد که در تحليل نهايی برای بعد معنوی انسان خيلی بيشتر مضر است" (Amiri-Vahid , S. 161-162 Mojtaba,).

خو سره له دې هم د لويديځ او نورو تمدنونو تر منځ اوسمهال د انډول رامنځته کيدل دومره ساده نه ښکاري. ځکه لويديځ، نړيوال مهم سياسي او امنيتي سازمانونه د بيلګې په توګه، د ملګرو ملتونو د امنيت شورا، نړيوال بانک او نړيوال وجهی صندوق، تر خپل اغيز لاندې لري او په واقعيت کې دوي د نړۍ د اداره کولو له پاره، په هغه ډول سره، چې د لويديځ ګټې تأمين، برترۍ يې خوندي، سياسي او اقتصادي ارزښتونه يې د نړۍ ګوټ ګوټ ته پراخه او وساتل شي، له دغو نړيوالو سازمانونو او پوځي ځواک څخه ګټه ترلاسه کوي. هغه پريکړې، چې په دغو نړيوالو سازمانونو کې نيول کيږي، په روښانه توګه د لويديځ د ګټو انعکاس دئ، خو دوي له هغو څخه د « نړيوالې ټولنې د ګټو» په توګه دفاع کوي.

د هانتينګتون په اند:" د نړيوالې ټولنې اصطلاح هغه مؤدبانه اصطلاح ده، چې د «آزادې نړۍ» د اصطلاح په ځای کارول کيږي، څو د امريکا د متحدو ايالتونو او نورو لويديځو ځواکونو هغو اقداماتو ته نړيوال مشروعيت وروبښي، چې د دوي ګټې منعکسوي" (Huntington, Samuel P. , S. 292). د ساری په توګه لويديځه نړۍ، د نړيوال وجهی صندوق او نړيوال بانک په مرسته هڅه کوي، داسې اقتصادي سياستونه، چې د دوي د نړيوالو ګټو تأمينونکي دي، طرحه او هغه پر نورو هيوادونو وتپي. ګيورګی آرباتوف د لويديځ دا ډول اقتصادي سياست ته نغوته کوی او وايي: د نړيوال وجهی صندوق چارواکي " نوي بلشويکان دي، چې مينه لري، د نورو پيسې مصادره کړي، غير ديموکراتيک او پردي سياسي او اقتصادي مقررات پر هغو وتپي او اقتصادي آزادی محدوده کړې" (Huntington, Samuel P. , S. 293). لويديځ صنعتي هيوادونه د خپلو دا ډول موخو د ترلاسه کولو له پاره د نړيوال وجهی صندوق د مالي وسايلو (ونډو) پر بنسټ آزاد لاس لري. په داسې حال کې چې د ملګرو ملتونو هر غړی هيواد د اصولو له مخې د يوې رايې مستحق دئ،يانی "يو هيواد يوه رايه" « One country-one vote » خو په نړيوال وجهی صندوق کې هر "ډالر (ونډه) يوه رايه" « One dollar - one vote » ده.

په نړيوال وجهی صندوق کې" اته ستر صنعتي هيوادونه په سلو کې له ۲ ،۴۵ زياتې رايې په خپل واک کې لري، چې په دې ډله کې د متحدو ايالتونو ونډه په سلو کې له ۱، ۱۷ څخه زياته ده، د جاپان ونډه ۱، ۶ په سلو کې ، د المان ونډه شپږ په سلو کې، د فرانسي ونډه نږدی پنځه په سلو کې، د بريتانيا ونډه څه نا څه پنځه په سلو کې، د ايتاليا ونډه ۳، ۳ په سلو کې، د کانادا ونډه څه نا څه ۳په سلو کې او د روسيې د فدراسيون ونډه ۸، ۲په سلو کې ده. په داسې حال کې، چې د نړۍ د اتيا تر ټولو بيوزلو هيوادونو ونډه يوازې لس په سلو کې او پاتې برخه يې د نورو هيوادونو ونډه ده ... د نړيوال وجهی صندوق د مهمو پريکړو د نيولو له پاره پنځه اتيا په سلو کې رايو ته اړتيا ده، په دې توګه يوازې متحده ايالتونه کولې شي د خپلو له ٪ ۱۷ څخه د زياتو رايو په لرلوسره د دا ډول پريکړو له نيولو څخه مخنيوي وکړي". (Copur/Schneider: IWF&Weltbank, 2004, S. 24-25). د اقتصادي برترۍ د ساتنې او د هغې د لا پياوړتيا له پاره پوځي برلاسی يو اړين شرط بلل کيږي. ځکه اقتصادي او پوځي برترۍ يو له بل سره تړلي دي : "پوځي ځواکمنتيا نه

شی کیدی بې له اقتصادي برترۍ پاینت ومومي او د پانگه والی نظام تر شرایطو لاندې اقتصادي برترې په خپل ذات کې ناپایداره ده" (Wagner Jürgen, 2003, S. 38).

لویدیځ او په تیره متحدو ایالتونو، د زیات لگښت او زیار له لارې او د وخت په بهیر کې دا ډول پوځي برترې ترلاسه کړې ده. اوس دوي په دې هڅه کې دي، چې د خپلې دغې پوځي برترۍ د ساتنې له پاره د اتومي، بیولوژیکي او کیمیاوي وسلو د نه پراختیا د سیاست له لارې د نړیوالو او سیمه ییزو سیالانو له رامنځته کیدو څخه مخنیوي وکړي.

په دې اړه د متحدو ایالتونو د دفاع پخوانی وزیر ویلي و: " ... له سړې جگړې څخه په وروسته پړاو کې متحده ایالتونه د متعارف پوځي ځواک له پلوه په خپل وړاندې سیال نه ویني او اوس زموږ د بالقوه (پوتنسیالو) دښمنانو وار دئ، چې د اتومي وسلو په ترلاسه کولو لاس پوري کړي. خو موږ باید هاند او هڅه وکړو او اجازه ور نه کړو، چې دوي د پوځي ځواک له پلوه زموږ د سیال په توگه سر راپورته کړي شي" (Huntington, Samuel P., S. 298).

نو ځکه دا د حیرانتیا وړ خبره نه ده، چې نور هیوادونه لکه شمالی کوریا، هند او په تیره د روسیې فدراسیون، په خپل دفاعي پروگرام کې د اتومي وسلو په رول ټنیگار کوي. د ساری په توگه یو هندی لوړ پوړی افسر نورو افسرانو ته په ښکاره کلماتو سره وایي: "تر هغې چې اتومي وسلې نه لرئ، له متحدو ایالتونو سره به نه جنگیږئ" (Huntington, Samuel P., S. 297). د نورو تمدنونو لوړ پوړو سیاسي او پوځي مشرانو هم له وروستیو پیښو دا زده کړه کړې ده، چې "که ته اتومي وسلې ولرې، نو متحده ایالتونه له تا سره جگړه نه کوي" (Huntington, Samuel P., S. 297).

اوسمهال د لویدیځ او اسلامی- کنفوسیوسی تمدن تر منځ کړکیچ په بنسټیزه توگه د اتومي، کیمیاوي، بیولوژیکي وسلو او د هغو د توغولو د وسیلو پر سر دئ. ځکه "د چینیانو او مسلمانانو په ځان ویسا او ځواک د لویدیځ په وړاندې مخ په زیاتیدو دئ او د دوي او لویدیځ د گټو او ارزښتونو تر منځ ټکر ورځ په ورځ زیات او پیاوړی کیږي" (Huntington, Samuel P., S. 294). خو لویدیځ هغو هیوادونو ته، چې د غو پرمختللو وسلو ته پراختیا او یا د هغو په ترلاسه کولو لاس پورې کوي، اقتصادي او سیاسي گواښ کوي او یا په هغو سیاسي او اقتصادي بندیزونه لکوي او یا آن دا چې تر پوځي یرغل لاندې نیسئ، چې ښه بیلگه یې د روانې پیړۍ په پیل کې د عراق جگړه ده.

دا یوازې اوسمهال نه دئ، چې لویدیځ له زور څخه کار اخلي، بلکې دا ډول عمل د لویدیځ د امپراتورۍ له جوړښت ۱۵۰۰ – ۱۷۵۰ څخه راپه دې خوا روان دئ. د جفری پارکر په وینا: " په ټولیزه توگه، د لویدیځ ځواکمن کیدل، تر زیاتې اندازې پورې له زور څخه د کار اخیستنې له امله و، ځکه په حقیقت کې، د اروپایانو او د هغو د دښمنانو تر منځ د ځواک انډول، تل د اروپایانو په گټه بدلون موند"... " پر نړۍ باندې د لویدیځ بری، د هغه د اندیښنو، ارزښتونو او دین ... د برترۍ له امله نه و، بلگې د لویدیځ د دغه برلاسی لامَل له سازمان ورکړ شوی زور څخه گټه اخیستنه وه. دا هغه ټکی دئ، چې لویدیځوال یې اکثراً له یاده وړی، خو هغه د نا لویدیځو له یاده هیڅکله نه وځي" (Huntington, Samuel P., S. 67-68).

که څه هم اوسمهال متحدو ایالتونو د سړې جگړې د پړاو دوه پاتې دښمن دولتونه، کیوبا او شمالی کوریا تر اقتصادي بندیزونو او پوځي گواښ لاندې نیولي دي، خو خپل بنسټیز پوځي عملیات یې تر ټولو دمخه له ترهگرۍ سره د مبارزې تر عنوان لاندې پر اسلامي نړۍ متمرکز کړي دي.

د امریکا متحده ایالتونه " د وخت له شرایطو سره سم، خپل د سزا ورکولو اقدامات د نړۍ په هره برخه کې، چې د دوي خوښه وي، له القاعدې سره د مبارزې تر نامه لاندې توجیه کوي" چې په دې توگه د دغه هیواد له خوا "د ترهگرۍ مقام د نړیوال ځواک تر حده پورې رسول، ټوله نړۍ له یوه جگړه ییز حالت سره مخامخ کړې ده" (Todd Emmanuel, 2004, S. 15-16).

دغه ډول جگړه ییز حالت په تیره د اسلامي نړۍ په هیوادونو، لکه افغانستان او عراق او همدارنگه د هغې په نورو سیمو کې په ښه توگه تر سترگو کیږي. په اسلامي نړۍ کې د متحدو ایالتونو د پوځي ځواک دغه ننداره له یوې خوا د هغو د پوځي کمزورتیا له امله ده او له بلې خوا د اسلامي نړۍ په سیمو، په تیره منځنې ختیځ او منځنې اسیا کې د نړۍ د تیلو او گازو تر ټولو سترې زیرمې پرتې دي، چې لویدیځ تر ټولو دمخه متحده ایالتونه په خپلو دغو عملیاتو سره د هغو لاندې کول غواړي." د تیلو پر پاتې زیرمو باندې کنترول د واشنگټن له پاره ځکه ځانگړی ارزښت لري، چې د دغه هیواد د تیلو پاتې زیرمې [هم] مخ په خلاصیدو دي او په ۲۰۲۰ کال کې د دغه هیواد د تیلو لگښت څه نا څه اویا په سلو کې باید له وارداتو څخه سمبال شي" (Wagner Jürgen, 2003, S. 50). نو ځکه لویدیځه نړۍ په تیره متحده ایالتونه غواړي په یو ډول نه یو ډول سره د نړۍ د تیلو پر پاتو زیرمو واکمنی (سلطه) تر لاسه کړی، څو له یوې خوا د تیلو د صادرونکو هیوادونو له ټرتیا څخه ځان وژغوري او له بلې خوا د روانې پیړۍ په بهیر کې پر نړۍ باندې خپله سیاسي، اقتصادي او کلتوري برتری وساتلي شي او سربیره پر دې د نوو لیبرالو تر لوا لاندې د پانگه وال نظام پراختیا، چې په نامه دې نړیوال کیدو یاد شوی او د متحدو ایالتونو تر ټولو ستره هیله ده، د عمل په ډگر کې پلی کړي.

پاتی بیا